د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

## ملایان او د دنی مدرسو ښونکي د افراطیت پر وړاندې مبارزه کې مرسته کوی

د **۱۳۹۲** هجری لمیریز کال د زمری د میاشتې **۱۹** مه نېټه بلخ مزارشریف – نن وروځ په مزارشریف ولایت کې د **۱۸** کسه ملایانو او دینی مدرسو د ښوونکیو دری ورځنۍ روزنه پای ته ورسېده. د روزنې اصلی موضوع د ګډون کونکو د پوهې اوچتول، د افراطیت په وړاندې مبارزه او د اسلام له نظره د اساسی او بنیادی سمون غوښتونکو په اړه خبرې اترې وې. دروزنېیز پروګرام ملاتړ له افغانستان سره د آلمان د همکاریو تر چتر لاندې د قانون د حاکمیت پروژې .(RoL) کړی وو.

د مرمول په ولسوالۍ کې د یو جومات ملا امام وویل: "په روزنه کې، موږ وپوهېدو چې د افراطیت د کمولو لپاره یوه مرکه د بنسټیز کیدی شي. سربیره پردې، زه اوس د خپل تبلیغ په تاثیر ډېر ښه پوهیږم – چې د افراطی فکرونه اغیزمن کړی. نو زه به په راتلونکی کې هڅه وکړم چې یو منځني چلند څخه استفاده وکړم. "

لکه څنګه چې ملایان او د دینی مردسو ښونکی خلکو ته لارښونه کوی او نصېحت او تبلیغ یې په وګړو تا ثیر لری، نو په افغانی ټولنه کښې مهم نقش هم لوبوی، ملایان او د مدرسو ښونکی به دواړه خپله پوهه د مدرسو او جوماتونو له لارې خپره کړی، په دې کار سره به وګړي او د مدرسو زده کونکی د بنیادی او اساسی سمونتیا په وړاندې حساس شي، د افراطیت په وړاندې د ګام اخیستنې لپاره پوهاوئ یو مهم شرط دی

د بلخ ولسوالۍ د پیام السلام مدرسې ښونکی وویل: ***"ما له دې روزنې مخکې د افراطیت په اړه یوائې لمړنی معلومات لرل که څه هم زه نه غوارم چې د دې په اړه په خپل تدرسی کې خبرې وکړم. روزنې زه وپوهولم چې د دې مهمې مسئلې په اړه خبرې اترې څمره مهمې دې"***

په تېرو لسیزو کې د ځوانانو بنیادې سمون د پام وړ وده کړې. سیاسیونو او مذهبی ډلو د خپلو نظریاتو د ترویج په مؤخه له ځوانانو ګټه اخیستی. چې دا زیاتوالی د اندېښنې وړدی. په تېرو کلنو کې ډېرو مدنی ټولنو ددغه پدېدې سره د مبارزې په وړاندې ډېرې ګامونه اخیستی. د بېلګې په توګه د افغانستان لپاره د پراختیا او ښې راتلونکې مؤسسه (SDBFAO) چې مالی ملاتړ یې له افغانستان سره د آلمان د همکاریو ترچتر لاندې د قانون د حاکمیت پروژه کوی. .

***د آلمان د پراختیایی او اقتصادی چارو فدرالی وزارت*** (*BMZ*) ***په استازی توب له افغانستان سره د آلمان همکاری له افغان دولت سره په ګډه کارکوی ترڅو په افغانستان کې د قانون حاکمیت ته وده ورکړی. د نوموړی پروګرام د مدینی ټولنې برخه په ځانګړې توګه د مدنی ټولنې د فعالانو او افغان دولت تر منځ د اړیکو په پیاوړتیا او د مدنی ټولنې د فعالانو په وړتیا اوچتونه سترګې ګنډلې دی. اړوندې حقوقي مضوع ګانې د مدنی ټولنې د سازمانونو له لارې حل او فصل کېږی***

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de